
# د نهم ټولګي دبیولوژي لنډیز




Ketabton.com

ليکوال:سعادت الله 《دوستـــــي》

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

ګران او قدرمن پلار جان اوخوږي مورجاني ته

له ما سره يې دژوند په هره برخه کي هاند کړی

اوزده کړو زمينه يې راته برابره کړي

او زه يې ديته هڅولی يم چه درس ووايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

دلمړی څپرکي لنډيز

## هاضمي سيستم

دانسان بدن خواړه له جذب څخه دمخه په کوچنيو ذرو ميده کوي، چه بيا دانسان دبدن داستفادي وړ ګرځي دغي عملي ته هضم ويل کیږي

دانسان هضمی سيستم له دوو برخو څخه جوړ شوی

1. هضمي کانال(خوله،کومی،مری،معده،وړي کولمي،غټي کولمي)پکي شامل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



2.هضمي غدي(خولي لعابيه غدي،دمعدي اوكولمو دننی غدي،ځیګراوپانکراس)پکي شامل دي

هغه بدلونونه چه دخوړو دهضم په عمليه کي رامنځته کیږي له دوو كيمياوي اوميخانيكي ډولونو څخه عبارت دي

انسان دعمر په لحاظ دوه ډوله غاښونه لري

- شيدو غاښونه
- اوهميشني غاښونه

هرغاښ له درو برخو څخه جوړشوی ده لکه تاج،ریښه.اوغاړه

ځوانان دشكل اودندي په لحاظ څلور ډوله غاښونه لري (ثنايا،انياب،کوچني اسياب،اولوی اسياب)

دري ډوله لعابيه غدي دخولي په منځ ځای لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه جوړه دژبي لاندي، دويمه جوړه يې دژامو لاندي، اودريمه جوړه يې غوږو ته نږدي پرتي دي

دخولي لاړي خواږه اوبلن اوپاسته کوي.نشايسته يې په کوچنيو ماليکولونوبدلوي اودغابښونو مخ پاکوي

له کومي ځخه مرۍ ته دخوړو تيريدلو په وخت کي دکومي وړه ژبۍ اوتالو وړه ژبۍ په ترتيب سره دپزي او تنفس لاره بندوي.

معده يو ارتجاعي عضلاتي غړی ده چه دنس کيڼ خواته تر حجاب حاجز لاندي

دځیګر(ينې)ترځنګ ځای لري

دمعدي ديوال له دريو ښويوعضلاتي طبقو (اوږده،حلقوي اومايل) ځخه جوړ شوی ده

دمعدي د ديوال غدي دمالګي تيزاب (Hcl )توليدوی چي دمعدي دموجي حرکاتو په مرسته پکي خواړه حل او دمايع په بڼه تبديل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمعدي تيزاب غيرفعال پيپسينوجن انزايم په فعال پيپسين انزايم بدلوي.
وړي كولمي يوپيچلى اوږد ټيوب ده چه په لويانو كي تقريباً شپږ متره اوږدوالى او<۲،۵>cm قطرلري او دګىډي په تش ځاى كي تر معدي لاندي موقيعت لري چه دانزايمونو په كومک دغذايى موادو غټي ټوټي په كوچنيو ماليكولونو باندي بدلوي.
دجذب عمليه دهضمي كانال له ديوال څخه دكوچنيو غذايى ماليكولونو تيريدل اوويني ته دهغوى رسيدل دي .
ينه دتريخي په نامه يو شين رنګه مايع لري چه له اوبو،آيونونو،شحمي تيزابونواوصفراوي مالګي څخه جوړه شوي ده.
لويى كولمي څه دپاسه يو متر اوږدوالى لري په غټو كولمو كي هضم صورت نه نيسي، بلكي توليد شوي وىټامينونه، دسوديم اوپتاشيم ايونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ۹۰% اوبه دداخلي محتوياتو څخه جذبوي اواضافي توکي (۱۲ــ۲۴)ساعتونو پوري له بدن باسي.
لويى ګونجي،ويلي ګاني او ميکروويلي ګاني دموادو دجذبولو کچه زياتوي.
دمعدي لاندي ښي خواته يوکوچنى تيوب داپنډکس په نامه شتون لري چي دغټو کولمو له لمړى برخي سره نښتي وي، ځيني وخت اپنډکس له يوي مايع څخه ډکيږي، دننه يى بکتريا تکثر کوي چه داپنډکس دميکروبي کيدو، پړيوسوپ اوسخت خوږ لامل کيږي.ددي ناروغى نښي دخوراک کموالى، دنامه په برخه کي سخت درد، کانګي اوسپکه تبه ده.
دنس ناستي لاملونه داوبو اوخوړو له دککړتيا او له ځينو درملو سره حساسيت ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددويم څپرکي لنډيز

## تنفسي سيستم

دتنفسي سيستم غړي دپزي تشه،خوله، کومې (pharyn)،

حنجره(وچه غاړه)، قصبةالريه (Trachea) اوسږو څخه عبارت دي

قصبة الريه يوه کرپندوکې تشه لوله ده چه له حنجري څخه وروسته موقعيت لري ،(١١cm) اوږدوالى (٢،٥cm)په شاوخوا کي کي قطر لري.

سږي له هوا څخه ډک سفنجي ډوله ارتجاعي بالونه دي چه دټټر دپنجري په منځ کي دزړه ښي او کيڼ خوا ته د حجاب حاجز لاندي موقعيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغازونو دتبادلي اصلي ځاى هوايى كڅوړي دي.
دتنفس عمليه:سږو ته دهوا دداخليدو اودسږونه دهوا دوتلو څخه عبارت ده.
يوځوان انسان په يوه دقيقه كي له (١٢)نه تر (٢٠)ځلوپوري سا اخلي .
برانشونه په سږو كي برانشيلونو باندي ويشل كيږي
داكسيجن ډيره برخه دهموګلوبين په واسطه، چه دويني په سرو كروياتو كي موجود دي، دبدن حجرو ته ليږدول كيږي.
دكاربن داى اكسايد ډيره برخه دويني په پلازما كي په منحل توګه ليږدول كيږي.
دتنفسي سيستم معمولي ناروغى له والكي،انفلونزا او نري رنځ څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درېیم څپرکی لنډیز

## دويني دوران سیستم(Circulatory system)

وینه یوارتباطي نسج ده چه له دوو برخو یعني مایع اوجامد څخه جوړه ده چه مایع برخه یی دویني پلازما اوجامده برخه یی دویني دکرویاتو یا حجراتو په نامه یادیږي.

د ویني پلازما بوسو ته ورته ژیړ رنګه مایع ده چه دویني %(۵۵)حجم جوړوي او غذایی منحل مواد (قندونه،پروتینونه،هورمونونه،ویتامینونه اوغازونه) لري

دویني کرویات دویني%( ۴۵)حجم جوړوي،دویني کرویات په دري ډوله دي

- سره کرویات
- سپین کرویات
- دمویه صفحات

دویني په دندو کي د اکسیجن، غذایی توکو،دفاعي حجرو او دویني پړن کیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.دبن په حجرو کي دکاربن ډای اکساید په
ځیر له کاره وتلي مواد اطراحي غړو ته
لیږدوي.

دویني رګونه: دمنشعبو ټیوبون څخه
عبارت دي چه دبدن په ټولو برخو کي شتون
لري.او په منځ کي وینه جریان لري. دویني
په رګونو کي، شریانونه،وریدونه،او
ویښته ډوله رګونه شامل دي.
شریانونه (Arteries)هغه رګونه دي چه له
زړه څخه وتلي او دبدن په مختلفو برخو کي
ویشل شوي،شریانونه پاکه وینه دبدن ټولو
برخوته رسوي.
وریدونه(Veins)هغه رګونه دي چه دبدن له
مختلفو برخو څخه ناپاکه وینه ټولوي اوزړه
ته یی رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وىښته ډوله رګونه(Capillaries)دبدن
په نسجونو كي دحجرو ترڅنګ نري اونازک
رګونه دي چه دميكروسكوپ څخه پرته په
سترګو نه ليدل كىږي اودويني اونسجونو
ترمنځ دغذايى موادو جذبيدل او دغازون
بدليدل په غاړه لري.

انسان وينه په (A,B,AB,اوO)صفر
ګروپونو ويشل شوي ده.

دRhفكتور لومړى پلاد Rhesusپه نامه يو
ډول بيزوګانو چه په وينه كي كشف شوه. له
همدي كبلهRhفكتو په نامه يادىږي. دهغه
وګړو چه وينه يى دغه ماده لري Rhمثبت
+Rh

اوهغه كسان چه وينه يى دغه ماده نلري Rh
منفي Rh- په نامه يادىږي

هىڅكله دRh+ وينه Rh- ته نشو وركولاى

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه (Heart):له یو ډول ځانګړي مخططې عضلي څخه چه دزړه دعضلي په نوم یادیږي جوړ شوی ده .اودټټر دپنجري دننه دسږو تر منځ لږ کیڼ خواته واقع او د پریکاردیوم ( Pericardium)په نامه دیوي نازکي پردي په واسطه احاطه شوی ده. نوموړي یوه غبرګه پرده ده چه له مایع څخه ډکه ده اوزړه له سولیدو څخه ساتي . دهر سړي زړه تقریباً دهغه دموټي په اندازه ده.

دانسان زړه له عضلاتي نسجونو څخه جوړ ده اوپه ښیو اوکیڼو برخو ویشل شوی ده، چه دیو پنډ دیوال په واسطه له یو بل څخه جلا شوي دي.

دښي اوکیڼ هره یوه برخه بیا په سور په دوو برخو ویشل شوي ده چه ددهلیزونو او بطنونو په نامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهليزونو او بطنونو ترمنځ او دبطنونو او شريانونو ترمنځ دىخي ځاى لري چه دويني دبيرته ګرځيدو مخه نيسي.

دويني ددوران ستونزي دسګرټو څښل،په وينه کي دکلسترول لوړوالى،روحي فشار او دورزش کموالى ده.

دويني لوړ فشار کولاى شي دزړه دحملي،دزړه ددريدو ،مغزي سکتي او دپښتورګو دناروغى لامل شي.

دانسان زړه په هره دقيقه کي{٧٠}ځله ټوپونه وهي

ديو انسان زړه په ورځ اوشپه کي{١٣٠٠٠}ليتره وينه پمپ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکي لنډیز

## اطراحیه سیستم

اطراحي سیستم له پښتورګو ،حالبینو ،مثاني او دتشو بولو له مجراوو څخه عبارت دي.

په پښتورګي کي دري برخي لیدل کیږي

- بهرنی برخه چه دکارتکس(Cortex) په نامه یادیږي
- منځنی برخه د میدولا(Medulla) په نامه یادیږي
- داخلي برخه د تشوبولو د راټولولوتش ځایونه دي چه دلګنچي(Pelvis) په نامه یادیږي او له حالبینو سره نښتي دي.

نفرون دپښتورګي میکروسکوپي جوړښتیز اوچانیز واحد ده.

دپښتورګو نفرونونه دویني زیانمن مواد تصفیه کوي. دبدن اوبه تنظیم او دویني فشار ثابت ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشي بولي دپښتورګو دلګنچي له تش ځای ثخه دحالبینو په وسیله مثاني ته لیږدول کیږي .

دمثاني داخلي محتویات دتشو بولودمجرا له لاري بهر ته تشیږي.

ځیني وخت کلسیم مګنیزیم،یوریک اسید اوداسي نور دلګنچو په تش ځای کي رسوب اوسره یوځای کیږي او دپښتورګي کاڼي جوړوي.

دچاپیریال ځیني ککړونکي مواد لکه درانده فلزونه ،اوځیني ناروغی اوزهري مواد په وینه کي دپښتورګو دخرابیدو لامل ګرځي.

حالبین(Ureters) دتشو بړلو کانالونه دي چه (۳۰)cmاوږدوالی لري اوتشي بولي له پښتورګو ثخه مثاني ته لیږدوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وينه په پښتورګو کي دورځي ۳۵۰ ځله دوران کوي

# اوشاوخوا(۲۰۰۰)ليتره وينه فلتر کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپن ځم څپرکي لن ډيز

## د هډوکو او عضلاتو سيستمونه

سکلىټ:دهډوکو مجموعه ده چه د دبدن چوکاټ جوړوي.

غضلي:هغه غوښيني ټوټي دي چه دهډوکو مخ يي پوښلى وي.

دانسان دبدن سکلىټ په دوو برخو ويشل شوى ده .

●محوري سکلىټ:دستني يا يو تير په ډول ده چه ضميموي سکلىټ ورپوري نښتى ده اوپه هغه کي(دسردکاسي هډوکي،دملاتير ،پښتى او دټټر هډوکي شامل دي .

●ضميموي سکلىټ:چه دهډوکو شمير يى دمحوري سکلىټ دهډکودشمير څخه زيات ده اود(لاسونو ،پښو ،شمزى،ګروېږ او اوږودچارى)هډوکي پکي شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منځنی توګه ديو بالغ شخص دهډوکو
شمير شاوخوا۲۰۶ ده.
هډوکي بدن ساتي منرالونه زيرمه کوي
دحرکت زمينه برابروي او دويني کرويات
جوړوي.
بندونه هغه ځايونه دي چه دوه يا دوو څخه
زيات هډوکي په کي يو ځای کيږي.
دسکلیټي سيستم په صدمو کي
درز ،دهډوکوماتيدل او دلیګامنت درشتې بي
ځايه کيدل ياځيري کيدل شامل دي.
دسکلیټي سيستم مختلف ډول دهډوکو پوکی
اوسپرن دی.
دهډوکو ډولونه عبارت دي له:اوږده،لنډ او پلن
هډوکي دي.
دري ډوله عضلي عبارت دي له:سکلیټي
غضلي،بښويی عضلي او دزړه عضلي.
سکلیټي عضلي په جوړه ييز ډول کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکلیټي عضلي منقبض کیږي چه
دهډوکو دحرکت لامل وګرځي.
منظم ورزش دزړه او دويني
درګونودناروغيو مخنيوی کوي
اودورځنيوکارونو دترسره کولو لپاره
زموږ دبدن وړتيا زياتوي.
دهډوکو نسجي جوړښت له دوو متراکمو او
سفنجي ډولو څخه دي.
دمتراکمو هډوکو دکانالونو داخلي برخه او دسفنجي
هډوکو ژوري دهډوکو دمغزو له نسجونو څخه
ډکي دي.
بندونه په دري ډوله دي: غيرمتحرک، نيمه
متحرک او متحرک.
دارتباطي نسج رشتي، چه سکلیټي غضلات په
هډوکو پوري نښلوي، دپلي په نوم يادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکي لنډیز

## عصبي سیستم او حسي غړي

عصبي سیستم:دانسان دبدن ترټولو مهم او پیچلی سیستم ده چه دهغي په واسطه محیطي عوامل درک او دبدن ټولي دندي اداره او کنترولیږي.

دانسان عصبي سیستم له دوو برخو

- مرکزي عصبي سیستم
- محیطي عصبي سیستم

څخه جوړ شوی ده

په مرکزي عصبي سیستم کي مغز اوشوکي نخاع شاملې دي .

محیطي اعصاب په دري ډوله دي :

- حسي اعصاب چې حسي نیورونونه دي او له بدن څخه عصبي پیغامونه مغز ته لیږدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- حرکي اعصاب هغه نیورونونه دي چه له مغز او نخاع څخه عصبي پیغامونه عضلاتو او یا غدو ته لیږدوي.
- مختلط اعصاب چه دنیورونونود حسي او حرکي تارونو مجموعه ده.

مغز په بدن کي داطلاعاتو داخستلو او تفسیرولو اصلي مرکز دی، په مغز کي لوی دماغ کوچنی دماغ او دمغز ساقه پکي شامله ده چه دسر په کوپړی کي واقع دي.

نیورونونه دعصبي سیستم دجوړښت او دندي واحدونه دي.

دنیورون دحجروي جسم څخه دوه ډوله رشتي یو اکسون او بل دنداریت جوړشوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځای چه یو نیورون له بل نیورون سره اړیکه نیسي د سینا پس په نامه یادیږي.
شوکي نخاع دځینو غبرګونونو مرکز دی لکه:لکه تر زنګانه دلاندي پلي غبرګون.
مغز تحليلونکی مرکزدی چه دفکـــرونو ،عاطــفي،کړنو ،درکولو ،احساس،قوت او حافظي دندي په غاړه لري.
دمحيطي اعصابو په سيستم کي حسي او حرکي دوي برخي شاملي دي چه په ۳۱جوړو نخاعي عصبو او۱۲جوړو مغزي عصبو پوري ارتباط لري.
دبدن غړي لکه سترګه، غوږ،پزه،ژبه او پوستکی شاوخوا چاپيريال څخه موږته ډير اطلاعات راکوي،په دي ډول چه دهغوی هر يو دچاپيريال عوامل په عصبي پيغامونو تبديل او مغز ته يی لیږدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسترګوکره دري پردي(صلبیه،مشمیه او شبکیه) لري.
په شبکیه کي د نوري آخذو مخروطي او استوانه یی حجري دي.
داخلي غوږ دوي برخي (حلـــــزوني او نیم دایروي ســــوري)لري چه لومړی برخه په اوریدلو او دویمه برخه دبدن په تعادل کي رول لري.
دکیمیاوي توکو حسي نیورون د ژبي دذایقي په دانکو (**Taste buds**)کي ځای لري.
هره دانه کیمیاوي توکو له پنځوسو څخه ترسلو پوري حسي نیورونونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داووم څپرکي لنډيز

## داندوکراين سيستم

داندوکراين په سيستم کي يو شمير غدي شاملي دي چه هورمونونه ترشح اوويني ته يې تو يوي تر څو دبدن بيلابيلو برخو ته ورسیږي.

هايپوتلاموس او دنخاميه غدي دزياترو هورمونونو دجوړښت عمده کنترولونکي مرکزونه دي.

دتايرايد په غده کي دآيودين کمښت دجاغور دتوليد لامل کیږي.

دپاراترايد غده په وينه کي دکلسيم مقدار تنظيموي.

دادرينال غدي د پښتورګو دپاسه پرتي اوله دوو برخو څخه جوړي شوي دي:

- مرکزي برخه
- قشري برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپانکراس غده دانسولين هورمون توليدوي او نوموړی هورمون په وينه کي دګلوکوز مقدار ټی‌ټوي.

تخمدانونه داستروجن او پروجسترون هورمونونه توليدوي،حال دا چه خصيی دتستوسترون هورمون توليدوي. دغه هورمونونه دګميتونو په جوړولو او دجنسي ثانوي ودي دتحريک لکه په ښځوکي دتيونو غټيدل او په نارينه وو کي دبريت او د ږيري په ختلو کي اغيزه لري .

ګسترين دمعدي دديوال هورمون دی چه دمالګي دتيزاب دتحريک لامل ګرځي او سکرتين دوړو کولمو دديوال هورمون دی چه دپانکراس غده تحريکوي ترڅو هضمي شيره تر شح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داتم څپرکي لنډيز

## تکثري سيستم

نرينه تکثري سيستم سپرمونه توليدوي او ښځينه تکثري سيستم ته يې لېږدوي.

تستوسترون د نرينه جنس بنسټيز هورمون څخه عبارت دی چې دخصيې په وسيله ترشح کېږي او دسپرمونو دتوليد اوتنظيم او دنرينه دځانګړتياوو وده کنترولوي.

دسپرم حجره له دريوو برخو سر،تنې اولکۍ څخه جوړه شوې ده.

دسپرم لکۍ يوه ځواکمنه قمچينه ده چي خپلو خو ځيدو په وسيله سپرم وړاندې پورې وهي.

دښځينه جنس تکثري سيستم هـــګـــۍ توليدوي القاح شوي هګۍ تغذيه کوي وده ورکوي همدارنګه ماشوم نړۍ ته راوړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښځينه جنس کي دوه داني تخمدانونه چه دچرګي دهګى بڼه لري دنس په تش ځاى کي شته دي.

استروجن او پروجسترون دښځينه جنس دوه هورمونونه دي چه دهګى ازادکيدل تنظيموي او ځانګړي ښځينه صفتونو ته وده ورکوي.
د تخمدانـــونـــو هر يو دنفيري دکانال په وسيله رحم ته لاره لري.
د نفيري دپوښ ښويى عضـــــلې انقباض،هګى درحم په لور خوځوي.
رحم يو عضلاتي منځ تشى غړى ده،اوکله چه ښځه اوميدواره نه وي دهغي رحم ديو موټي په انـــدازه ده.
دجنين انکشاف دپنځمې اونۍ په دوره کي زړه مغز او نور غړي او دويني رګونه په جوړيدو پيل او په چټکى وده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په معموله توګه يوه داميد واری دوره څه ناڅه ۴۰ اونی وخت نيسي.

ډکټران په معموله توګه دمور درحم په دننه د جنين دليدلو لپاره د سونوګرافۍ څخه ګټه اخلي.

انسانان معمولاً په هره زیږيدنه کي يو ماشوم نړۍ ته راولي ، خو غبرګوني دري ګوني او يا ډير زیږيدل هم شوني ده.

دتکثري سيستم دستونزو څخه کولای شو چي د شنډ والي او جنسي مقاربتي ناروغيو څخه نوم واخلو.

دږيري دچړو،دپيچکاری ستنه او دخال وهلو له وسايلو څخه کار اخستل چه په ای ډز لرونکي وينه باندي ککړ وي، دHIVويروس دلیږدوني لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنهم څپرکي لن ډيز

## دچاپيريال ستونزي او حل ی ې

هر هغه لامل چه چي دژوند دچاپيريال پاک حالت ته داسي تغير ورکړي چي خلګ يی ونه غواړي دچاپيريال دککړتيا په نوم یادی ږي.

په ن ړی کي دنفوسو ورځنی زياتوالی او دصنعت پرمختيا ټول هغه لاملونه دي چه دژوندانه دچاپيريال دستونزو لامل ګرځي .

دهوا ککړتيا دهغه غازونو او لوګيو څخه عبارت ده چي دډبرو دسکرو، پطرولو،طبيعي غازونو او لرګيو له سوند څخه هوا ته پورته کی ږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوره دکیمیاوي سرو حشره وژونکو درملو، دهرزره ګیاوو ضد درملواو دحیواني اونباتي ناروغیو ضد درملو په واسطه ککړکېږي.

اوبه دپخلنځي اضافه اوپاته شونو،فابریکو،ښاړونو او دکرني دلګول شوو اوبو پاتي برخه چه سیندونو،چینو اوځاګانو ته لاره مومي ککړيږي.

تمت بالخیر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**